# ناټو« NATO »
# او
# دناټو« NATO »  پیژندنه !



## دوه ویشتمه برخـــه


**دانټرنیټ دفارسی سرچینوڅخه**
ژباړونکی ؛ عزیزاحمد خوارمل


## دروسيې – ناټو د مرستی شورا یا د روسيې مخامخ کیدل د ناټو سره !



دروسيې اوناټواړیکی په رسمی توګه د(۱۹۹۱) زیږدیزکال راپه دی خوا دشمالی اتلانتیک دمرستی دشوراسره ددی هیواد یوځای کیدل پیل سو اوددغه (شورا نوم د«۱۹۹۷» زیږدیزکال څخه داتلانتیک-اروپا دمرستی دشوراپه نوم واوښت ) دروسيې هیوادپه (۱۹۹۴)زیږدیزکال کې دسولی سره دمرستی په خاطرپه دی شوراکې ورګډ سوچې زیاته موخه یې داستراتیژیکوډېرومرستودپاره وو .اوپه (۱۹۹۶)زیږدیز کال کې د بوسنی هرزګوینا اوبیا د کوزوووموضوعګانی پردی اړیکوباندی سیوری یې واچول . په همدی کال کې دروسيې ځواکونه اوسرتیری دناټودسوله ساتی ځواکونوسره په بوسنی هرزګویناکې یوځای سول اوهمدارنګه په (۱۹۹۹)زیږدیزکال کې  په کوزووکې دسولی اوثبات دساتنی دپاره روسیه اوناټویوځای سره ګډون درلود اوداهسی لیدل کیدل چې ددغه وخت څخه په خاصه توګه سره دروسيې -  ناټواړیکی مخ پرښه کیدو دی  ترهغه ځای چې په (۲۰۰۱)زیږدیزکال کې دناټوداطلاعاتودفترپه مسکو کې خلاص اوپرانستل سوواوپه (۲۰۰۲)زیږدیزکال کې دناټو – روسيې دمرستی شوراNRC  دنوپوانګیزو انځور یې رامنځته کړ .په (۲۰۰۴)زیږدیزکال کې دناټو – روسيې

دمرستی دشورالمرڼی ګډ دفاعی  پوځی تمیرینات په امریکا کې دراکیټونودګوابښ په وړاندی  ترسره سو اودوهم ګډپوځی مانوردروسيې اوناټوپه (۲۰۰۵)زیږدیزکال کې په هالند کې اودریم دغه ډول ګډپوځی مانوردروسيې اوناټوپه ګډون په    (۲۰۰۶)زیږدیزکال کې په مسکوکې ترسره سو . اما دناټواوروسيې اړیکی په (۲۰۰۸)زیږدیز کال دګرجستان سره دجګړی دکبله  دګوابښ سره  مخا مخ سو که څه هم وروسته ددی جګړی څخه  دوه ځلی غیر رسمی جلسی  د دواړوترمنځ صورت وموند اوپه پایله کې دقرقیزستان په هیوادکې دماناس په هوایی ډګرکې دامریکا دهوایی دپوځی‌اډی په تړلوسره رامنځته سو، اوروسيې دغیرپوځی سامان اوالاتو پرلیږدلوسره ، په دی سیمی کې مرسته  اوموافقت يې وکړ. اما ددی داهسی یوبهیرپه راتلوسره ، دناټودپراختیا اودمخنیوی دپاره  دروسيې ډول،ډول تاکتیکونه وخپلی نږدی سیمی اوخوزی ته ادامه لري اوڅه موده مخکې دروسيې اوچین اودمنځنی اسیا ددریونوروډهیوادونولکه تاجیکستان ، قرقیزستان او قزاقستان هیوادونوګډپوځی مانور  هم ترسره سو اوبیا په قفقازکې سږکال څه موده مخکې دمی په میاشت کې دناټو - ګرجستان ګډپوځی مانورهم ترسره سو دځیروړتکی خودا دی چې دروسيې  ډول،ډول استرتیژی  دشانکهای – ناټوپه مخامخ کیدوسره  مسکو زیارباسی  ترڅو دخپلی نږدی سیمی اوخوزی څخه ناټوپرشا کړی په دی  ډول سره چې مسکويې دمذاکری اوخبراترو ومیز ته دمرستی دپاره دروسيې – ناټودشورا اویاپه افغانستان کې د دوو اړخیزو مرستو  دپاره راکش وي   .

# داروپایی هیوادونواودروسيې اړیکی په څه ډول دی؟:

په (۱۶) شپاړسمه پیړی کې د اروپا په وچه کې شاوخوا(۵۰۰) پینځه سوه سیاسي اداري شتون درلود . دبیلګی په ډول لکه خپلواک دولتونه ، شاهی نظامونه او نور سیاسی ګوندونه . د شلمی پیړی په رارسیدو سره په نوموړی وچه  کې یوازی  او یوازی  (۲۵) پینځه ویشت  خپلواکه او ازاده دولتونه پاته سول . دا په دی معنا ده چې د( ۴۰۰ ) څلورسوو کلونو په اوږدو کې دلویی اداري جوړښتونه ،دوړی اداری جوړښتونه يې د منځه وړی دی . د ویلو وړده چې اروپایانو تل په خپلو منځونو کې نښتی او جګړې يې کړی دی .ددی نه پرته که چیری روسان او ترکانو په اروپایانو کې ونه شمیرو نو روسانو  هم د اروپایانو په شان په خپلو منځنو کې د نښتو او جګړو نه پرته د مستعمرو سره هم د خپلواکی په لاره کې نښتی کړی دی او تل  اروپایان د یو غښتلی ځواک په توګه پاتی سوی دی . د تاریخ په اوږدو کې جګړی اوپوځی خوځښتونه د اروپایانو په عاداتو باندی اووښتی دی ځکه چې دوي هری ستونزی ته د جګړی نوم ورکوي . د بیلګی په توګه سړه جګړه ، د نفتو جګړه ، د ستورو جګړه ، د مدنیتونو ترمنځ جګړه او ددی په څیر ویو زیات شمیر نورومسائلوته . اوسمهال نوموړو د طبعی ګازو دجګړی سرلیکونه يې  راانتقال کړی دی . د یادولو وړ ده چې ګاز یوه داهسی انرژی نده چې اوس تازه کشف سوی وی لږ تر لږه د (۵۰) پینځوسو کلونو څخه راپه دی خوا دغه ماده کارول کیږی . دا چې دوي ولی دا خبره په یوی جګړی بدله کړی او اړه ولی دی  د حیرانتیاخبره ده . د ویلو وړده چې روسان هم په دی هڅه کې دی چې خپل ټول توکی په وسلو او ګټو بدلی کړی . روسانو خپل نفت او ګاز يې د خپل بهرنی سیاست په یووالی باندی بدل کړی دی . اروپایی او کپیټالستی حکومتونه ددی څخه وړاندی د خپل اړتیا وړ نفت او ګازيې د سعودی عربستان ، عراق ،کویت او کله ،کله هم د ایران په څیرددغو هیوادونو څخه د خپلی غوښتنی پربنسټ تر لاسه کول . خو روسان د خپلو ګازو او نفتو بیه اوقمیت  په خپله ټاکی . چې په اصل کې اروپایی هیوادونه د خپل ګازو دریمه برخه د روسيې نه ترلاسه کوي  ،اوپه  روسيې پوری ډیر تړلی هم ندی خو روسان د منځنی اسیا او قفقاز د سیمو ګاز او نفت په خپله پیری او پلوری ، یعنی په خپله يې معامله کول غواړي . ددی ټولو دریځونو او کړنو څخه موخه يې اقتصادمسائل  نه دی . روسان غواړي چې د اروپایانو دپاره د ګازو او نفتو الترنیتیف نل لیکی د منځه یوسی . په یوی بله معنا روسیه غواړي چې په سیمه کې خپل ټول سیالان د منځه یوسی او د ګازو پلورنکی او مصروفونکی هیوادونه تر خپل سیاسي فشارونو لاندی ونیسی او په خپله خوښه سره پر  هغوی باندی د انرژی بیه وټاکی . روسان د اروپایانو سره د (۱۹۹۱) زیږدیز کال کې لاسلیک کړی تړون نه منی او نه په هغه باندی عمل کوی . روسان د انرژی په برخه کې د یو نوي تړون لاسلیک کول غواړي . روسانو په(۱۹۹۰)  کلونو کې د ناټو او اروپایی ټولنی سره خپله مرسته يې د

منځه يوړه او د سړی جګړی ښخه يې وروسته ځانته يو ځانګړی سياست غوره کړ. روسيه دشمالی اتلانتيک ناټوپه پوځی تړون کې د ګرجستان او اوکرائين دهيوادونود غړيتوب سره ډير کلک مخالفت کوي او تل د هغوی د غړيتوب د مسئلې پروړاندی خنډونه پيدا کوي . د مالدوی په تجريد کولوکې بريالی سوه ، په ګرجستان کې يې د خپلی پوځی لاس وهنو سره نوموړی هيواديې ټوټه ټوټه کړ. همداشان د ارمنيستان دهيواد ښخه د خپل ملاتړ سره دناګورنه قره باغ ستونزه اولانجه يې لا کړکيچنه کړی او په عينی وخت کې يې دادزربايجان هيواديې هم تر خپل اغيزی لاندی راوستی دی او حتی په خپل ځان پوری يې تړلی دی . په همدی ډول سره روسيه د منځنی اسيا هيوادونه اودترکی هيواد يې د سونيانو او شعيه ګانو په پلمه يو د بله سره په خپلو منځونوکې سره اچولی دي او په نوموړو هيوادونو کې د نفاق دتخم وکرلو ته دوام ورکوي . اود هغوي نه په ډير ارزانه بيه ګاز او نفت پيری او په نوروهيوادونه يې په ډيره لوړه بيه پلوری . په دی ډول هم ګټه تر لاسه کوي او هم نور هيوادونه تر خپل سياسي فشارونو لاندی نيسی .که چيری کوم هيواد ددوي پر ضد خپل ږغ پورته کړی د نوموړی هيواد و واکمنانوته ستونزی رامنځته کوي . روسيه وخپلو بازارونو ته د لوړګمرکی محصولاتو دامله د اروپايی هيوادونودصادراتی مالونو د ننوتوښخه مخنيوی کوي . اوپه اصل کې دټولو ښخه مهم روسانو ډېرتينګ زيارباسی ترڅو د لويديځوالو په منځ کې يو والی او اتفاق د منځه يوسی . او اروپايانو هيڅ وخت يو ګډ دريځ يې ندی خپل کړی . د بيلګی په توګه د اروپايانو ګډه پلان سوی پروژه ، د ناباکو د ګازو پروژه ده چې د اروپا ځواکمن هيواد المان ورښخه ملاتړ نه کوي . نوددی ښخه وروسته روسيه بايد د انرژی په برخه کې په خپل سياست کې لږ نرمښت راولی او که په دی هکله بدلون رامنځته نه کړی نويوځل بيا به د يوی سړی جګړی درامنځته کيدوامکان لری نه وي .

## ناټودامريکا ترمشری لاندی دپوځی پيل دسامان الاتو په شان دی :

دهستوی وسلو دپراختيااودمخنيوی اودمنځه وړلو په وړاندی دمبارزی نړيوال سازمان (سيان ډي) اعلان وکړ : دناټوپوځی سازمان په يوداهسی وسيلی باندی اوښتی دی چې نړيواله ټولنه دامريکا ترمشری لاندی دملګروملیتونودسازمان په نه ليدلوسره اودهغه بيله اجازی نه خپل پوځی پيل اوکړنی ترسره کوي .
دهستوی وسلودپراختيااودمخنيوی اودمنځــــه وړلـوپه وړاندی دمبارزی نړيوال سازمان (سيان ډي) په يوی بيانی کې په ټينګار سره دناټودپراختيا پرخطريې اعلان وکړ :په ګرجستان کې شخړی دګواښ ښکارندوی دی چې دناټودېر ژرپراختيا دسولی ترسرليک لاندی کيدی سي چې په دننه دختيځی اروپااودهغه دشااوخوا سيمودپاره ،په سيمه کې سوله اوامنيت دخطرسره مخامخ کړی .
په دغه بيانی ليکل سويدی : ناټودسړی جګړی يوارګان دی ،بايد هغه وخت کله چې دوارسا يا ورشوپوځی تړون په (۱۹۹۱)زيږديزکال کې دمنځه ولاړ،په همدی ډول سره ناټوهم دمنځه تللی وای اوورته دپای ټکی ايښودلی سوي واي .
ددی بيانی په يوه بله برخه کې راغلی ده : ناټوداصولواودلايلوپه دلاسه ورکولوسره چې لمړی ځل دهغه په وسيله جوړاوانځورسوی وو،همدا اوس په دی لټه پسی راوتلی دی ترڅوځان بل ځل دسره جوړ کړی اوناټودنړيوال ټولنی دپوځی پيليدونکوکړنودترسره کولوپه يوځای باندی اوښتی دی .
دهستوی وسلو دپراختيااودمخنيوی اودمنځه وړلو په وړاندی دمبارزی نړيوال سازمان (سيان ډي) په خپل دی بيانی کې يې ټينګار ګړيدی :ددی امرريښتينوالی خودادی چې ناټوپه داهسی وسيله باندی اوښتی دی چې دهغه له طريقه دپوځی ميتودپه کارولوسره دامريکا ترمشرتابه لاندی صورت نيسی اودا په دی مانا دی چې پيل کيدونکی کړنی په رښتيا سره ديوی بلی لاری ښخه په تيريدوسره دملګروملتونود سازمان دښنګه ښخه خپلی کړنی ترسره کوي .
د(سيان ډي) نړيوال سازمان په دی بيانی کې زياتوي : همدارنګه د شوروی اتحاد دپخوانيوجمهوريتونو په دننه کې دناټودپراختيابهيرجريان لری اوپه همدی ډول سره دناټوپوځی عملياتودخپلی اړندوسيموښخه بهر صورت مومی ،داټوله ددی سبب ګرځيدلی دی ترڅونړی په يوډېر

خطرناکه ځای باندی واوړی ،دناټوسازمان دهستوی تسلیحاتو یوه وسلواله اتحادیه ده اودهستوی لمړی یرغل سیاست پالی اوپه دی سیاست پسی دی .

په دی بیانی کې راغلی دی : دناټودپاره دانګلستان هستوی وسلی په نظرکې نیول سوي دي اوپه هره اندازه چې دناټوپلوی (سرحدات)پراخه کیږی ،اوپه هم هغه اندازی سره کیدی سی چې دپوځۍ میتودونوڅخه کارواخیستل سي اودنوروهیوادونو په سیمه یزو شخړوکې زیاتوالی به رامنځته سي .

دهستوی وسلو دپراختیااودمخنیوی اودمنځه وړلو په وړاندی دمبارزی نړیوال سازمان (سي‌ان ډي) ددی بیانی په پای کې لیکۍ اوزیاتوي : دقفقازپه سیمه کښې دغه نخښه نښانی په څرګنده توګه ددی خطرونوښکارندوی دی ،چې دشخړواوګرکیچ ډېرژرزیاتوالی اودپوځۍ ځواکونوګډون په سیمه یزوشخړواو آخ اوډب کې دا ټوله دیونابېره پراخه فاجعه امیزه جګړی درامنځته کیدو،دیولوی خطره څخه شمیرل کیدی سي ./

(نوربیا،په درویشتمه برخه کې ادامه لري) اخیځلیک : د راوی نیوزاوقطره نیوز څخه